# د سر د بقاء جنګ به په هر قيمت ګټل وي!!

خان زمان کاکړ

په پښتونخوا کښې د پرله پسې چاؤدنو لړۍ يقيناً چې زړونه ويلي کوي، ټولنيز نفسيات ويرې، انتشار او مايوسۍ نيولي دي خو د ژور نظر لرونکو د پاره روان حالت د دښمن د ذهني اضطراب او تذبذب شاخسانه او غالباً انتهائي مرحله ده، ځکه چې په جنګ کښې داخل د سر د بقاء د مبارزې تحريک په خپلو فعاليتونو کښې ښخې سنجيده دے. تحريک روان صورتحال ته په بدلېدونکو سياسي چشمو کښې نۀ ګوري بلکې په تاريخي تناظر کښې دا د پښتنو د ژوند او مرګ هغه مرحله ګڼي، چې لږه کوتاهي به پکښې ټول قام د مرګ کُومي ته ورلاهو کوي او قامي بېداري او سنجيدګي پکښې د ټول دوزخي بحران نه د راوتلو باعث ګرځېدے شي. د پښتنو قيادت د دې نه سبوا بل اپشن نۀ ويني، چې دا جنګ به په هر حال او هر قيمت ګټل وي. قيادت پوهېږي، چې مسئله د خبرو نه ډېره وړاندې تللې ده. پښتانۀ دا وخت د سياسي شوکماريو او بيان بازيو په پوزېشن کښې نۀ دي بلکې د تاريخ په دې اهم پړاؤ جدي فېصلې په وړاندې لري. د اطمينان خبره دا ده چې په دې دوزخي حالاتو کښې يوائې د پښتنو قومي قيادت او حکومت په محاذ ولاړ نۀ دے بلکې قام هم ورسره د لښکرونو په شکل د دښمن په ضد مبارزې ته چمتو دے. قام نور د جلادانو په درشل کښې سجدې نۀ شي کولې.



د پښتنو مسئله به په نړيوال تناظر کښې څېړل او ګټل وي. په مسئله کښې د خيل نړيوال فېکټرونه په نظر کښې ساتل غواړي. دنيا کوشش کوي چې د مسئلې جرړې په خپل تاريخي او حقيقي سياق و سباق کښې وګوري. دا حقيقت نن په نړيواله کچه منلے شوے دے چې ترهګر يوائې د پښتنو قومي ژوند ژواک نۀ ختموي بلکې د نړۍ دائمي امن هم په خطره کښې اچوي. د دې ترڅنګ تر ټولو مثبت پېښ رفت دا شوے دے، چې نړۍ ومنله چې د ترهګرو کمانډ سنټر په پښتونخوا نه بلکې په پنجاب کښې وجود لري، د جي ايچ کيو نه د لاهور او اسلام اباد تر سړکونو خرمستۍ د دې کمانډ سنټر د مضبوط فعاليت دليل دے. کۀ په پراخه کچه ښېړنه وشي او ټوله ډېټا ترتيب شي نو ترهګري د پنجاب تحفه ده.

د نړيوال سياست په تناظر کښې کبري لوګر بل، بلبک واټر، د هېلري کلنټن او د سي آئي اې د

مشر لېون پنيتا دورې او په "دي نيو يارکر" مجله کښې د سيمور هرش د غېرمحفوظو اېټمي اثاثو په حقله انکشافاتي ليکنه د پاکستان په حقله د نوي سياسي پېش منظر د تاکنې نشاندهي کوي. په کېري لوګربل کښې د حالاتو سنګيني ښېخي جوته ده او د پاکستان د جهادي او جماعتي ذهنيت دپاره دا بِل په دې د منلو وړ نهٔ وو چې په دې کښې د ترهګرو د بشپړې خاتمې مطالبه وه. په ځائے د دې چې د پاکستان په حواله د نړېوال نقطهٔ نظر ذمه وارانه ځواب ووئيل شي، اپوته لېونی بابولالې دود شي، چې امريکه، بهارت، اسرائيل او افغانستان په پاکستان کښې تخريبي سرګرمۍ تر سره کوي. په دې کښې دوي ټولې رياستي ادارې او جهادي سېټ اپ بري الذمه کړې. د دې نه علاوه د پاکستان د استخباراتي سياست او جماعتي مېډيا دانش د کمال شي، چې کله په ښو او بدو طالبانو کښې د تميز خبره راپورته شي. دلته کښې يوه تش په نوم روشن خياله ډله هم له دې فکري نارسايۍ سره مخامخ ده چې په مستقبل کښې به طالبان قومي سياست ته مخه کوي. جماعتي مېډيا د ښو او بدو طالبانو د تميز خبره د لروبر افغان په سياسي تناظر کښې کوي. خو چې کله خبره تر لاهور او اسلام اباد پورې اورېده شي نو دوي د ښو او بدو په ځائے بهارت او افغانستان تورن کړي او په ضمن کښې د امريکې او اسرائيل ذکر هم کوي. په دې توګه دوي خپل هغه روايتي سياسي اپروچ په کار راوړي چې يو پرمختللے او سوکاله پاکستان نړۍ نهٔ شي زغملے. خو زميني صورتحال دا دے چې پاکستان د نړۍ د دائمي امن په وړاندې خنډ دے. د پاکستان د اېټمي وسلو په حقله په نړېواله کچه زيات



تشويش موجود دے. په لاهور او اسلام اباد کښې د ترهګرو فعاليتونو دا ويره راپېدا کړې ده چې د پاکستان اېټمي وسلې د ترهګرو لاس ته ورتلونکې دي. خو د افغانستان په حقله د نړۍ نقطهٔ نظر ښېخي بدل شوے دے. د نړۍ ټول دانشوران دې حقيقت ته رسېدلي دي چې درې لسيزې له افغانستان سره جبر شوے دے، د دې جبر سرچېنې د افغانستان نه بهر ودانې دي کهٔ په دنيا کښې امن غواړو نو دا سرچېنې به ورانوو. کېري لوګر بل په هم دې ذهن تيار شوے دے چې نور به په تعلقاتو کښې غېرسنجېدګي نهٔ کوو بلکې په حالاتو به check and balance ساتو، ځکه چې په غېرسنجېدګۍ کښې صرف د ډالرو اصراف وشو خو نتائج انتهائي مايوس کُن مخې ته راغلهٔ. د دې تر څنګ امريکې اعتراف کړے دے چې په پاکستان کښې له فوځي واکمنو سره مرسته لويه تېروتنه وه او په مستقبل کښې به دا تېروتنه نهٔ تکرارېږي. په تاريخ کښې په وړومبي ځل څرګندېږي چې امريکه او نوره نړۍ د پاکستان له فوځ، بېوروکرېسي، ښي لاسي او جماعتي سياست سره د تعلقاتو نه ځان لرې ساتي. هم له دې کبله د پاکستان مېډيا او د پنجاب سياسي حلقې د امريکې په حواله د سخت تنقيد اظهار کوي. ځکه چې ننۍ امريکه د پرونۍ امريکې په ډول د دوي دپاره د ډالرو دروازې

پرانستې نۀ لري. نن د ډالرو سره احتساب هم ضروري ګڼل شوے دے. په دې تناظر کښې عسکري ډله او سياسي اشرافيه خپل مستقبل په تيارو کښې ويني.

د ملک د موجوده صورتحال په حواله ښے لاسے سازشي او استخباراتي سياست بېخي يوه منفي او غېر سنجيده رويه لري. په نورو ټکو ښي لاسي سياست او ترهګرو لاسونه سره يو کړي دي. دوي د ترهګرو په موجوده حکمتِ عملۍ کښې دا هيله ويني چې حکومت به destabilized شي او د واک واګې به يو ځل بيا د ضياء د باقياتو په لاس شي. د پنجاب سياسي رويه په بې شرمۍ عوامي رايه مسخ کوي. بالخصوص د مسلم لېګ (ن او ق)، جماعتِ اسلامي او نورو ټانګه تنظيمونو يواځينۍ موخه د جمهوري حکومت خلاف سازشونه ايجادول دي. د دوي د مېډيا او دانشورانو موقف په ملک کښې ترهګرو ته اخلاقي جواز ورکوي، د بدامنۍ په ثبوت دوي د حکومت په ناکامۍ دليل ورکوي. دوي روانې منظرنامې ته په تاريخي سياق وسباق کښې نۀ ګوري، ځکه چې بيا د ترهګرۍ په پرورش کښې د دوي برخه تر ټولو زياته ده.

دا ځومره حېرانونکې خبره ده، د پنجاب کومه تش په نوم سول سوسائټي چې د وکيلانو په تحريک کښې د مېډيا د پروګرامونو او بحثونو مرکزي نقطه وه او د لاهور په سړکونو د احتجاجي سياست علامت ؤ، اوس چې په پښتونخوا کښې انسانيت په الميو لړل کېږي. هغه سول سوسائټي چرته ده؟ دا سول سوسائټي د لوړې طبقې نه سرچينه اخلي او د لوړې طبقې او لوړې صوبې د مفاداتو په وخت رابېدارېږي. دنيا نن د پنجاب انتهاء پسندو رويو ته زياته متوجه ده.



پنجاب ته د هيلري کلنټن دوره ئې ښکاره مثال دے. مېرمن کلنټن حېرانه وه چې د دې صوبې انتهاء پسند صحافيان او د تعليمي ادارو تبليغي طالبعلمان د امريکې په حواله دومره معلومات لري، خو د خپل ملک د ترهګرو په حقله هيڅ هم نۀ وائي. ځکه چې دوي اوس هم دا ترهګر خپله اثاثه ګڼي، خو د دوي دا اثاثه چې د دوي دا اهمې اثاثو غونډې په پنجاب کښې غېرمحفوظه شي، نو بيا به ور په ياد شي چې د پاړو مرګ د مار د لاسه وي. خو د مار او پاړو په دې پټ پټوني کښې چې نن پښتون وطن کومې الميې تېروي، د دې په ضد به لائحه عمل په جدي بنيادونو ترتيبول وي. په روانو حالاتو کښې په قامي بنيادونو بايد هر څوک د خپل رسالت او مسووليت ادراک ولري. د پښتنو د سر د بقاء جنګ په خپل قامي تحريک پورې تړلے دے. هم دا تحريک به د حالاتو په تورتمونو کښې د مستقبل ډيوې روښانوي. که مو ځلان سباوون مرام او ارمان وي، نو د خپل قامي تحريک مرسته به يقيني کول وي.

khanzamankakar.kakar@gmail.com

که مو ځلان سباوون مرام او ارمان وي، نو د خپل قامي تحريک مرسته به يقيني کول وي.